# هغه څه چې باید پرې پوه شئ

په یوه سالم کور کې را لوئیدل ستاسې د ماشوم د ودې یوه مهمه برخه ده. د سرب لپاره د ماشوم او کور ټیسټ وکړئ، تر څو په سرب باندې د زهرجن کېدو مخنیوی وشي.

## سرب ولې خطرناک ده؟

د سرب له امله رامنځته کېدای شي:

- د کړو وړو ستونزې
- د زده کړې معلولیتونه
- د اوریدلو وړتیا ته زیان
- د خبرو کولو ځنډیدل
- ضعیفه فکري وړتیا

## څرنګه پوه شم چې زما ماشوم د سرب له امله په زهرجن کېدو باندې اخته دی؟

- زیاتره واړه ماشومان چې د سرب زهرجن کېدو سره مخ وي، نه ناروغ ښکاري او نه ناروغ چلند کوي.
- یوازینۍ لاره چې معلومه شي ایا ستاسې ماشوم د سرب زهرجن کېدو سره مخ دی، هغه دا ده چې د هغه د وینې ټیسټ وشي.
- د خپل ماشوم/ماشومې له ډاکټر سره د وینې د سربو د ټیسټ په اړه خبرې وکړئ. مېن ایالت له ټولو ماشومانو څخه غواړي چې باید د یو او دوه کلنۍ په عمر کې معاینه شي.

په مېن ایالت کې، د زړو کورونو د رنګ دوړه د ماشومانو د سرب زهرجنتوب تر ټولو عام لامل ګڼل کېږي.

## د ماشومانو د سرب زهرجن کېدو لاملونه څه دي؟

د سرب دوړه له زاړه سرب لرونکي رنګ څخه پیدا کېږي، کله چې دا رنګ زړېږي، خرابېږي، یا د ورځني استعمال یا د کور د ترمیم پر مهال ګډوډ شي.



د سرب دوړه د ماشومانو پر لاسونو، لوبو پر سامان او چوشکونو نښلي، چې هغوی بیا هغه خولې ته وړي.



دا ډېره اسانه ده چې د زاړه رنګ دوړه، د سرب لرونکي رنګ ټوټې او د سرب لرونکې خاورې ذرات د ماشوم خولې ته ننوځي.



## ولې واړه ماشومان تر ټولو ډېر له خطر سره مخ دي؟

- د سرب دوړه کولای شي پر فرشونو، د کړکۍ پر چوکاټونو او هغو ځایونو وي چې ماشومان هلته لاسونه ږدي او لوبې کوي.
- ماشومان په تېره بیا هغه چې عمرونه یې تر 3 کلونو ټیټ وي، هغوی زیاتره خپل لاسونه خولې ته وړي او پر فرشونو باندې ښکېږي. دا کار دا ډېر اسانه کوي چې د سرب دوړه د ماشومانو خولې ته ننوځي.
- یوه کوچنۍ اندازه د سرب دوړه هم کولای شي یوه وړوکي ماشوم ته زیان ورسوي. ماشومان ډېر احتمال لري چې د سرب له امله زیان وویني، ځکه چې د دوی بدنونه او مغزونه لا هم په وده کې دي.

**خپله کورنۍ خوندي وساتئ. خپل ماشوم مو معاینه کړئ. خپل کور مو معاینه کړئ.**

- دا وېب پاڼه وګورئ: **maine.gov/healthyhomes**
- د مشورې لپاره زنګ ووهئ: **866-292-3474**، د اوریدنې ستونزو لرونکو لپاره (TTY): د **Maine Relay** له لارې **711** ته زنګ ووهئ.

مارچ 2025

# هغه ساده ګامونه چې
# باید خپل ماشوم د سرب له امله خوندي وساتئ

## په خپل کور کې سرب وموميء

- [ ] که چېرې تاسې په داسې يوه کور کې ژوند کوئ چې تر 1950 کال وړاندې جوړ شوی وي، نو له **maine.gov/healthyhomes** څخه د سرب د دوړو د ټيسټ د کڅوړې وړيا فرمايش ورکړئ. دا به درسره مرسته وکړي چې پوه شئ ايا ستاسې په کور کې د سرب دوړه شته که نه.
- [ ] رنګ شوي کړکۍ، دروازې او فرشونه د رنګ د اوښتو، پوټېدلو يا چاکېدلو لپاره وګورئ. ماشومان له ټولو هغو سيمو څخه چې رنګ يې خراب شوي وي لرې وساتئ. هغې سيمې ته لاسرسی د فرنيچر په کارولو سره بند کړئ.
- [ ] د ملکيت مدير يا څښتن ته د خراب شوي رنګ په اړه وواياستتر څو هغه بېرته په سمه توګه سره ورغوي.
- [ ] مخکې له دې چې د کور د ترميم يا رنګولو کومه پروژه پيل کړئ، زده کړئ چې څنګه د سرب دوړه کنټرول کړئ.
- [ ] د کار لپاره يو "د **EPA** تصديق‌شوی **RRP** قراردادي" وګمارئ. په دې اړه لا ډېر دلته زده کړئ **epa.gov/lead**.

## د سرب دوړه سمدلاسه ومينځئ

- [ ] فرشونه، د کړکۍ څنډې او ميزونه هره اونۍ د لوند جارو يا د استعمال وړ ټوکرونو سره پاک کړئ. جاروګان، وچ ټوکرونه، او هغه ويکيومونه چې **HEPA** فلټر نه لري، د سرب دوړه خپروي.
- [ ] تر خوړو يا ويده کېدو وړاندې مو د خپل ماشوم لاسونه په صابون او اوبو ومينځئ.
- [ ] اوونۍ کې يو ځل د لوبو سامان ومينځئ او د لوبو سامان له اوړيدونکي رنګ سيمې څخه لرې وساتئ.
- [ ] مخکې تر دې چې چوشک يا د شيدو بوتل خپل ماشوم ته ورکړئ نو که چېرې هغه پر ځمکه غورځيدلی وي بايد پاک يې ومينځئ.

## خپل کور ته سرب مه راوړئ

- [ ] که چېرې په خپل کار کې له سرب سره کار کوئ، نو سمدلاسه مو خپل کالي او بوټان بدل کړئ. د کار کالي مو د کور له کاليو څخه بېل ومينځئ. وړاندې تر دې چې له خپل ماشوم سره تماس ونيسئ، خپل ځان ومينځئ.
- [ ] د دې لپاره چې دوړې مو کور ته دننه نه شي نو د دروازې په خوله کې يو بوټ پاک کېږدئ او خپل بوټان مو په دروازه کې وباسئ.
- [ ] ډاډ تر لاسه کړئ چې انتيک او رنګه شوي زاړه د لوبو وسايل مو په ښه وضعيت کې وي او هغو د ماشومانو له لاسرسي څخه لرې وساتئ. له هغو ولسي يا ګياهي درملو څخه ډډه وکړئ چې ښايي سرب ولري.

**خپله کورنۍ خوندي وساتئ. خپل ماشوم مو معاينه کړئ. خپل کور مو معاينه کړئ.**

- دا ويب پاڼه وګورئ: **maine.gov/healthyhomes**
- د مشورې لپاره زنګ ووهئ: **866-292-3474**، د اورېدنې ستونزو لرونکو لپاره (TTY): د **Maine Relay** له لارې **711** ته زنګ ووهئ.

Department of Health and Human Services

مارچ 2025